مُلا ارزاني او فن تاريخ گوئي: يوه تحقيقي او تنقيدي مطالعه

# MULA ARZANI AND ART OF CHRONOGRAM: A RESEARCH AND CRITICAL STUDY

[1]Habib Ullah Vardag
[2]Dr.Noor Muhammad

## ABSTRACT

*There are various types of narratives history among which one is chronogram. Chronogram is an ancient and old Ajami and oriental art whose basics are on alphabet and arithmetic and Alphabet and arithmetic depends on letters and numbers. In literary terms a word, a set of words, a phrase, a syllable, a poem, a piece of poem or a poem, or an element of poem is used to calculate the date of the occurrence of an event in the year AH or AD, are the art of chronogram. (The word, phrase or phrase from which the desired date is derived is called material history. "مادہِ تاریخ") although chronogram depends on the 28-alphahets of Arabic language but this art has its origin from Persian language. After Persian language this series of art was also implemented in Urdu and Pashto languages too. Within the Pashto language, there have been very rare experiments and observations in this art which is an important part of history, and the first Pashto language extends from the classical period to the modern contemporary period. Here the art is confined to the classical and great rowshanet Preacher, commentary, interpreter and Poet, Mula Arzani.*

***Key Words***:- *Pashto ,Pashto Poetry , Language , Prose, History, chronogram .*

---

[1] Habibullah Vardag, PhD scholar, Pashtu Acdemy University of Peshawar
[2] Associate Professor, Pashtu Academy University of Peshawar

د تاریخ د تذکري او بیانیي مختلف انواعُ اقسامات دي چي یو پکښي له دغو څخه "تاریخ ګوئي" هم ده ۔ تاریخ ګوئي یو قدیم او لرغونے عجمي او مشرقي فن دے چي د دې اساسیات په ابجد یا حساب الجمل ولاړ دے او ابجد یا حساب الجمل په حروف او اعدادو اډانه لري ۔ باالفاظِ دیګر که چرې حروف او اعداد نه وے یا په دې دواړو کښي یو نه وے او یا حروف او اعداد د یو بل متبادل نه وے پکارولے شوي نو حساب الجمل او تاریخ ګوئي کول به محال وۀ ۔ د تاریخ په مختلف ارتقائي پړاوُنو کښي انسان د خپلي نفعِ او فائدي په خاطر دغه دواړه حسبِ ضرورت پکارولي دي، په دې لړ کښي په مختلفو مواقعو د حروفو نه د اعدادو او د اعدادو نه د حروفو کار اخستے شوے دے ۔ که چرې اعداد د حروف متبادل استعمال شي نو دې طریقي ته ترقیم او که حروفو نه د اعدادو کار واخسے شي نو دې ته حساب الجمل (علم ابجد) وئیلے شي ۔ په ادبي اصطلاح کښي په یو منظوم کلام یا نثري فنپاره کښي د داسي مخصوص مفرد یا مرکب لفظ، جملي یا مصرعي د تقطیع او استخراج نه په حساب الجمل سره "تاریخي ماده" (د کوم لفظ، جملي یا مصرعي نه چي مطلوبه تاریخ اخذ کولے شي نو هغې ته د دې فن په اصطلاح کښي "مادهِ تاریخ" وئیلے شي) راووځي، تاریخ ګوئۍ بللے شي ۔ په لړ کښي ډاکټر فرمان فتح پوري لیکي:

> (ترجمه: په اصطلاح کښي یو لفظ، د لفظونو مجموعه، فقرې، عبارت، مصرعي، شعر، د عبارت ټکرې یا اشعار یا د یو شعر د څۀ برخي نه سن هجري یا عیسوي کښي یوې واقعي د پېښېدۀ تاریخ اخذ کولو ته تاریخ ګوئي یا فنِ تاریخ ګوئي وئیلے شي ۔ د واقعه د پاره مخصوص موقع یا موضوع نۀ وي ۔ ذاتي، غېر ذاتي، معاشرتي، تهذیبي، علمي او ادبي او سیاسي و تاریخي هر قسم واقعات او موضوعات نه تاریخونه راویستے شي ۔[1]"

تاریخ ګوئي په نظم او نثر دواړو کښي ممکن ده او د دې د پاره د شعر و شاعري شرط لازم و ملزوم نۀ دے ۔ بلکي یو شمېر نثري جملي او مفرد یا مرکب لفظونو کښي هم د تاریخ ګوئۍ نموني موجود دي ۔ البته زیاتره په منظوم انداز کښي رقم کړې شوي دي، ولې چي نظم د نثر په نسبت زیات او زر زړۀ او ذهن ته پرېوځي او تر ډېره وخته پورې په حافظه کښي د پاتي کېدۀ امکان لري ۔ د تاریخ ګوئۍ د فن استاذانو د دې فن د محفوظولو د پاره منظوم یا د شاعرۍ لاره غوره کړې ده ۔ هم دغه وجه ده چي تاریخ ګوئي لۀ خاطره ډېر تاریخونه او یاداشتونه د ورکېدۀ او ضائع کېدۀ نه بچ شوي دي ۔ د تقویم لۀ رویه تاریخ ګوئي په هجري، عیسوي او دغسي نور، یعني په هر قسم تقویم کښي کولے او محفوظولے شي خو شرطِ وضاحت به ضرور لري ۔ د فنِ تاریخ ګوئۍ په اوائلو کښي به عموماً د یاد دهانی په خاطر په ماشومانو باندې داسي نومونه هم کېښودے شو چي د هغې نه به د هغۀ د زوکړې کال مخي ته راتلۀ ۔ لکه د خوشحال خان خټک د زوي "عبدالقادر خان" د نوم تاریخ ماده (۱۰۶۳ھ) ده چي د دوي د زوکړې کال هم دے ۔ دغه رواج اوس هم خال خال لېدے شي لکه ډاکټر محمد زبېر حسرت د خپل زوي د عبدالحمید د زوکړې کال د "تعظیم" د تاریخي مادې (۲۰۰۰ء) نه راویستے دے ۔ ولې په شاعرۍ کښي دا د یو جدا فن په حېث متعرف شوے دے او یو شمېر شاعرانو په دې فن کښي د خپلې استاذۍ کمال ښکاره کړے دے ۔

تاریخ ګوئۍ د پاره د موضوع قیود و پابندي نشته بلکي دا په هره موضوع کښي بیانېدے شي ۔ یعني په دې کښي د ژوند سره تړلي ټول واقعات، اتفاقیات او حادثات راوړلے او محفوظولے شي ۔ لکه سیاسي، معاشرتي، سماجي او ادبي، ولې زیاتره د زوکړې، مړیني، غم ښادۍ او د خط و کتابت په لړ کښي رقم کړے شوي دي ۔ په لنډه توګه، چي کوم څۀ د تاریخ برخه او بیانیه ده نو هغه د تاریخ ګوئۍ موضوع هم ده ۔ تاریخ ګوئي یو ګران، مشکل او پیچیده فن دے او ډېر ښۀ ښۀ شاعران او ادیبان د دې فن په وړاندې د خپل لا علمیت اظهار کړے دے ۔ وئیلے شي چي تاریخ ګوئي د اوسپني نني چیچل دي یا د چړو او اغزو په څوکو تګ او سفر کول دي ۔ طبع ازمائي خو لویه خبره ده خو په دې فن د پوهېدو شخصیات هم په اوړو کښي د مالګي برابر پاتي نۀ دي ۔ اګر چي تاریخ ګوئي یو مقبول، زوړ او لرغونے فن دے او په دې فن کښي اهلِ مشرق او علمائے قدیم داسي نادري تجربې، مشاهدي او صنعتونه پیدا کړي دي چي عقلیت ورته ګوته په خولۀ پاتي شوے دے او د ګرانو نه ګراني مسئلي او سوالونو جوابونه ئې حل کړي دي ۔

> (ترجمه: تاریخ ګوئي یو ګران او پیچیده فن دے، په هندوستان او پاکستان کښي داسي کم خلق پاتي دي چي د دې فن په بنیادي قواعدو پوهه دي ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ قدیم علمائے فن په دې سلسله کښي داسي صنعتونه تخلیق کړي او داسي معجزه نما کمالات ئې پرېښودي دي چي د دوي نه بغېر ممکن نۀ وۀ ۔ د وخت د تېرېدو سره سره لکه څنګه نور اقدار بدل شو او پوهه خلق د مینځه لاړل، هم دغه شان دا فن د زوال او تنزل په لاړو ۔ تر دې پورې چي نن سبا په دې علم د پوهېدۀ خلق خال خال لېدے شي او د دې فن سره د مینې او شوق و ذوق خلق به باید چي د ډیوې په رڼا وموندے شي ۔[2]"

د تاریخ ګوئۍ شروعات او پیلامه د عربو نه شوې ده، هم دغه وجه ده چي د دې د پاره د عربي ژبي اتۀ ووېشت (۲۸) حروف هجا اساسیات ګڼلے شي ۔ البته په نورو مشرقي ژبو کښي د دغه حروفو سره د نزدېکت او مخارجو په بنا نور مخصوص حروف هم پکارولے شي ۔ په دې لړ کښي د "الف" د پاره (۱) د "ب" د پاره (۲) او دغسي نور، چي په لاندې راوړې نقشه کښي ئې ملاحظه کولے شئ ۔

| نقشِ ابجد | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب - پ | ج - ځ - څ - چ | د - ډ - | ه - ھ | و | ز - ژ - ږ |
| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 |
| ح | ط | ي - ې - ئ - ی - ے | ک - ګ | ل | م | ن - ڼ - ں |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 50 | 40 | 30 | 20 | 10 | 9 | 8 |
| ش - ښ | ر - ړ | ق | ص | ف | ع | س |
| 300 | 200 | 100 | 90 | 80 | 70 | 60 |
| غ | ظ | ض | ذ | خ | ث | ت - ۀ - ټ |
| 1000 | 900 | 800 | 700 | 600 | 500 | 400 |

ولې دا خبره هم د يادوني وړ ده چې پۀ تاريخ ګوئی کښې پۀ حروفِ مکتوبي اکتفاء کولے شي يعني هغه حروف چې پۀ غږ، تلفظ او ادائيګی کښې راځي او کۀ نۀ خو چې پۀ ليک او تحريري صورت کښې راشي ـ لکه عبدالرحمٰن، حبيب الرحمٰن، مجيب الرحمٰن او دغسې نور، پۀ دې اسمونو کښې "الف" او "لام" او "الفِ مقصوره" پۀ غږ او وئيلو کښې نه راځي خو پۀ ليک او تحرير کښې راځي پۀ دې وجه پۀ حساب الجمل او تاريخ ګوئی کښې د دې حروفو عددي قيمت او ارزښت متعيّن کولے شي ـ البته الفِ مقصوره ځان له حرف نۀ بلکې د يو حرف حرکت دے نو پۀ دې اساس پۀ د دې ارزښت هم نۀ وي ـ دغه شان ټولې پينځۀ واړه "يې ګاني" به يو ابجدي قيمت او ارزښت لري ـ پۀ عربی، فارسی او اردو کښې محض دوه يې ګاني (ی ـ ے) دي ولې پۀ پښتو ژبه کښې د "يې ګانو" شمېره پينځۀ ده لکه (ي ـ ې ـ ئ ـ ی ـ ے) ـ پۀ دې اساس به د هرې يې ابجدي ارزښت لس (۱۰) او يائے متصله (ئي ـ يي) به پۀ دوؤ يې ګانو شمېرلے شي ـ پۀ اردو کښې دې يې ګانو (ئے ـ ئی) ته بشمولِ همزه (ء) يا ئے تختاني مجهول و معروف وئيلے شي او پۀ دې لړ کښې د دې فن صاحب علم حضراتو يوه اوږده مباحثه کړې ده او نتيجه کښې (يي ـ ئي ـ ئے)* مرکب ګڼلي دي او پۀ ابجدي نظام ئې کښې دوه "يې ګاني" محسوب کړي دي ـ پۀ پښتو ژبه کښې دغه ستونزه د جدا جدا "يې ګانو" له مخه واضحه ده او هره "يې" به ځان ځان له ابجدي لس (۱۰) قيمت شمېرلے شي ـ

د دې نه علاوه ځينې حرفونه پۀ پښتو ژبه کښې ځانګړي او مخصوص دي چې هغه پۀ بله ژبه کښې نشته لکه (څ ـ ځ ـ ړ ـ ښ) ـ د دې د پاره خو وړومبے اهلِ فن دانشورانو د فارسي او اردو پۀ تعاقب کښې د نورو حرفونو د نزديکت او مخارجو پۀ بِنا عددي ارزښت وضع کړے دے ـ لکه د "څ" او "ځ" د پاره "ج" ابجدي ارزښت (۳) ـ د "ړ" د پاره "ز" ابجدي ارزښت (۷) د "ښ" د پاره د "ش" ابجدي ارزښت (۳۰۰) محسوبولے شي چې وړاندې پۀ ابجدي جدول کښې ئې وضاحت شوے دے ـ ولې د دې مخصوص حرفونو د پاره مشتاق مجروح يوسفزئ د دې حرفونو د مجموعې نه يو نوے لفظ د "ځړڅښ" پۀ نوم جوړ کړے دے ـ دوي زياتوي چې پۀ ابجدو کښې د "غ" ارزښت (۱۰۰۰) دے پۀ دې اساس چې دې حرفونو له د دغه لفظ د ترتيب پۀ مناسبت "ځ" له (۲۰۰۰)، "ړ" له (۳۰۰۰)، "څ" له (۴۰۰۰) او "ښ" له (۵۰۰۰) ابجدي ارزښت ورکړے شي نو دا به ښه وي ـ پۀ دې مد کښې دوي پۀ خپله يوه ناچاپ مقاله کښې ليکي:

> "دا وخت مسئله صرف پښتو کښې د دې مخصوصو څلورو حرفونو (ځ ـ څ ـ ړ او ښ) ده ـ د عقل تقاضا دا ده چې هم پۀ هغه طريقه د زړو نه پس دا هم زيات کړے شي ـ پۀ زړو ابجدو کښې (غ) (۱۰۰۰) عدد لري نو چې ورپسې د پښتو دا خپل څلور مخصوص حرفونه زيات کړے شي او هم پۀ هغه زړه طريقه جوړ کړے شي نو غوره به وي ـ د ابجدو کومې زړې کلمې چې تر ننه رواج لري هغه بالترتيب نۀ دي نو د پښتو د دې څلورو حرفونو نه لفظونو جوړولو د پاره هم ترتيب ضروري نۀ دے ـ د دې حرفونو نه "ځړڅښ" ټکے جوړېدے شي ـ ـ ـ ـ بره چې کوم حرفونه (ځ ـ څ ـ ړ او ښ) زيات کړے شو له هغې (ځړڅښ) جوړېږي دا کلمه به د ابجدو د اتو کلمو نه پس ليکل پکار وي ـ ځکه چې د "غ" عدد زر (۱۰۰۰) دے او دې له مونږ بالترتيب (۲۰۰۰ ـ ۳۰۰۰ ـ ۴۰۰۰ او ۵۰۰۰) عددونه مقرر کړل ـ د ابجد کلمې به د دې تجويز نه پس نهه شي او دا رنګ به وي ـ
>
> ابجد، هوز، حطي، کلمن، سعفص، قرشت، ثخذ، ضظغ، ځړڅښ
>
> ما ته د دې خبرې هم احساس دے چې پښتانۀ د چا داسې علمي تجويز منلو ته تيار نۀ وي خو دا ما خپل فرض ګڼل ـ دا مسئله چې پۀ کال (۱۹۶۰ء) کښې ورته مولوي فضل ودود صاحب اشاره کړې وه نو هغوي ئې هغه وخت ضرورت محسوس کړے وۀ ـ"[3]

دوي دا هم زياته کړې ده کۀ چا سره د دې نه ښۀ تجويز وي نو هغه دې وړاندې کړے شي ولې چې پښتانۀ پۀ عمومي توګه هر نوے علمي تجويز قبلولو ته تيار نۀ وي ـ د ټولو نه وړومبے خو د دوي راوړے تجويز زړۀ ته پرېوځي او عقل ئې هم تسلميوي ولې چې پۀ چې حساب الجمل کښې د "غ" (۱۰۰۰) نه لوے ابجدي ارزښت نشته او هجري او عيسوي سنه ډېره وړاندې تلې ده ـ د دې به د ټولو نه لويه فائده تاريخ ګو شاعرانو ته دا وي چې يو خو به پۀ لړو لفظونو او جملو کښې تاريخي مادې محفوظ شي او بل به د پښتو ژبې د مخصوص حرفونو د پاره ځانګړي ارزښتونه هم تعين کړے شي ـ خو دا به هله ممکن وي چې پۀ دې مد کښې پۀ سرکاري توګه د منظور کړے شوې ادارې له خوا عملي اقدام پورته شي او پۀ باقاعده توګه يو قرارداد وړاندې کړے شي ـ

---

* ـ د دې فن د بحث و مباحثې د مزيد تفصيل د پاره د ساحر لکھنوي کتاب "فن تاريخ ګوئي کا تنقيدي جائزه" مخونه د ۳۶ نه تر ۷۷ پورې کتلے شئ ـ

تاریخ ګوئی دوه لوے اقسام  لري چې يو ته تاريخِ صوري او بل ته تاريخِ معنوي وئيلے شي ۔ پۀ تاريخِ صوري کښې عموماً يوې تاريخي پېښې، واقعې او حادثې ته پۀ عامو لفظونو کښې اشاره کولے شي ۔ يعني يو تاريخي ماده د حساب الجمل پۀ ځاے پۀ لفظونو کښې بيان کړے شي نو تاريخِ صوري بللے شي ۔ د دې برعکس پۀ تاريخ معنوي کښې د عامو لفظونو پۀ ځاے يوې تاريخي پېښې، واقعې او حادثې ته د حساب الجمل يا پۀ علم ابجد کښې د "مادهِ تاريخ" پۀ ذريعه محفوظ کړے شي نو د تاريخ معنوي پۀ زومره کښې راځي ۔ د دې نه علاوه تاريخِ صوري و معنوي د دې بل قسم دے چې د دواړو د اختلاط نۀ جوړېږي ۔ تاريخ معنوي بيا مزيد اقسام او صنعتونه لري چې پکښې سالم الاعداد، تعمّيه باتخرجه، تعمّيه باتدخله او تعمّيه باتخرجه و تدخله نه علاوه بې شمېره صنعتونه لري ۔ چې پکښې صنعت توشيح، صنعت تاريخِ حرفي، صعنتِ تاريخِ لفظي، صنعتِ تاريخِ اسمي، صنعتِ تاريخِ ترکيبي، صنعتِ تاريخِ جملاتي، صنعتِ تاريخِ تسکين، صنعتِ تاريخِ مُتحارکه، صنعتِ تاريخِ اعجام، صنعت تاريخِ تناصف، صنعتِ تاريخِ تضارب، صنعتِ تاريخِ  ترصيع، صنعتِ تاريخِ معکوس، صنعتِ تاريخِ تنقيط، صنعتِ تاريخ سلبِ نقطه، صنعتِ تاريخِ تعريب او صنعتِ تاريخِ تضارب د يادولو جوګه دي ۔

(ترجمه: د تاريخ د اقسامو پۀ بيانولو کښې ځينې محققينو د فنِ جمل د اختصار نه کار اخستے دے او ځينو د خپل خپل مزاج او خوښې پۀ لحاظ پکښې کمے بېشے کړے دے ۔ د "معدن الجواهر" ليکونکي د رائې مطابق د تاريخ محض درې اقسام دي ۔ (۱) صوري (۲) معنوي (۳) صوري و معنوي ۔ ځينې محققينو د دې پينځۀ اقسام ذکر کړي دي او تعمّيه ئې هم د دې پۀ اقسامو کښې راوړې ده، او ځينو پۀ تاريخِ صنائع کښې ذکر کړې ده ۔ ځينې معززينو اقسام جمل هم پۀ تاريخ اقسام کښې راوړے دے ۔"[4]

د تاريخ ګوئی پۀ مد کښې د يو شمېر اثارو او موادو د لټنې، پلټنې او شننې نه دا خبره پۀ ډاګه شوې ده چې تاريخ ګوئي يو مشرقي او عجمي فن دے ۔ اګر چې د دې فن ايجاد او احتراع د اهلِ عربو پۀ اوږو بار ده او د عربی ژبې پۀ اتۀ ووېشت حروفِ تهجي باندې اډانه لري ولې پۀ عملي توګه دې فن پله دوې خاص توجۀ او پام لرنه نۀ ده کړې ۔ البته پۀ اهلِ عربو کښې د تاريخي نوم کېښودۀ رواج عام وۀ، يعني د هر چا به دوه نومونه وو يو معروف نوم او دويم تاريخي ۔ معروف نوم به د پيدائش سره سم کېښودے شۀ او تاريخي نوم کښې به د جمل پۀ حساب محض د زېږدنې کال محفوظولے شۀ ۔ هم دغسې دا سلسله د عربی نه فارسی، اردو او پښتو ته راغلې ده ۔ پۀ دې لړ کښې د دې فن اهلِ ذوق پۀ دې متفق دي چې د دې فن باقاعده ابتداء د عربی ژبې پۀ ځاے د فارسی ژبې نه شوې ده او اهلِ هند فارسي ګو شاعرانو پۀ دې مد کښې ډېرې کاميابې تجربې او مشاهدې کړې دي ۔

(ترجمه: دا خبره حېرانونکې ده چې زمونږ سره د عرب شاعرانو د تاريخ ګوئی لرغوني نموني موجود نۀ دي ۔ زمونږ د تاريخ ګوئی شروعات د د فارسی شاعری نه شوي دي ۔ د تاريخ ګوئی د ټولو نه لرغوني نموني پۀ ايراني شاعری کښې پۀ لاس راځي او د دې نه پس د هند فارسي ګو شاعرانو د محنت نتيجه ده ۔ تر دې پورې چې د اردو شاعری دور شروع کېږي او د تاريخ ګوئی سلسله د فارسی سره سره پۀ اردو شاعری کښې داخلېږي ۔"[5]

ولې چې فارسي د هند سرکاري او دفتري ژبه پاتې شوې ده او بيا پۀ دې فن کښې محض شاعرانو او اديبانو نۀ بلکې حکومتِ مغليه شهنشاے ظهيرالدين محمدبابر، همايون خان، جلال الدين محمد اکبر، نورالدين جهانګير، شاهجهان او اورنګزيب عالمګير د خصوصي دلچسپۍ باعث ګرځېدلے دے ۔ هم دغه وجه ده چې د دې زېر اثر اردو ژبې هم دغه روايتِ تسلسل خپل کړے دے او د امير تېمور پۀ دورِ حکومت کښې ئې نخښې نښانې پۀ ګوتو راغلې دي ۔ د دې نه پس دغه سلسله هم دغسې مخ پۀ وړاندې تلې ده او نولسمه صدي عيسوي د دې د شهرت او مقبوليت د پاره نېک شګون پاتې شوې ده چې پکښې شعر و شاعري کول يو عام فېشن ګرځېدلے وۀ ۔ ولې دې سره سره د يو شاعر د پاره تاريخ ګوئي کول هم لازم او ملزوم ګڼلې شوه ۔ کۀ چرې يو شاعر به ښۀ شعر و شاعري کولے شوه او تاريخ ګوئی کښې به ئې طبع ازمائي نۀ شوه کولے يا نۀ کوله نو هغې شاعری ته به پۀ مشکوک نظر کتلے شۀ ۔ پۀ دې دور کښې تاريخ ګوئي د شعر و شاعری د پاره محاسنِ فن حېثيت لرو او بامعنیٰ تاريخي ماده برأمد کول د دې فن استاذي او کمال ګڼلے شۀ ۔ اګر چې د دې صدی د نيمې پورې تاريخ ګوئي محض د دربار او سرکار سره د خواصو پۀ ولقه کښې وه او هغسې د عوامو پام توجۀ نۀ ده پاتې شوې لکه څنګه چې د نيمې صدی نه پس ده ۔ کله چې پۀ دې فن کښې د يو شمېر اهلِ ذوق خاوندانو لۀ خوا پۀ باقاعده توګه مقابله او رسه کشي شروع شوه نو د خواصو سره سره د عوامو مرکز توجۀ هم جوړه شوه ۔

پۀ پښتو شاعری کښې د نورو اصنافو تر څنګ د تاريخ ګوئی رجحانات او مېلانات هم د فارسی زېر اثر پاتې شوي دي او د دې شروعات د دويمې کلاسيکي دورې او د روښاني مکتبِ فکر مرهونِ منت مؤجب ګرځېدلي ده ۔ پۀ دې لړ کښې د دې مبارزې سره نزدې پاتې شوي څلور شاعرانو چې پکښې مُلا ارزاني، مېرزاخان انصاري، دولت لوانے او کريم داد بنګش ځان ستړے کړے دے او پۀ شعوري يا غېر شعوري توګه ئې پۀ دې فن کښې د تاريخ معنوي او صوري دواړو کښې طبع ازمائي کړې ده ۔ پۀ دې ضمن کښې د دوې کار و زيار د مقدار لۀ خوا کم او لږ دے ولې د معيار لۀ خوا پۀ تول تللے پوره او کره دے ۔ پۀ دې مد کښې کۀ دوی ته د اوليت او تقدم اعزاز پۀ برخه شوے دے نو ورسره ئې راتلونکيو ليکوالانو د پاره د لارې بل مشال حېثيت هم پاتې شوي دي ۔

"لکه څنګه چې د پښتو تحريري ادب ابتداء د روښاني تحريک نه کېږي او د دغه تحريک سره تعلق لرونکو شاعرانو پښتو ادب کښې د عربی او فارسی پۀ اثر ګڼ شمېر اصناف او د هغې سره تړلي لوازمات متعارف کړل نو ورسره ئې سم د تاريخ ګوئی بنياد هم کېښودۀ ۔ او پۀ خپل وخت او د ځينو واقعاتو او د تحريرنو د ليک وخت د دغه فن پۀ وسيله محفوظ کړل او راتلونکيو نسلونو ته ئې د خپل تاريخ د کړو پيوند کولو څۀ نه څۀ مساله پرېښوه ۔ د دغه فن ابتداء د ملا ارزاني نه کېږي ۔"[6]

دلته کښي محض د روښاني مکتبِ فکر سره نوموړے او پېشرو شاعر ملا ارزاني پۀ شاعرئ کښي د دې فن (تاريخ ګوئی) نخښي نښاني پۀ ګوته کولے شي، چي لاندې ئې يوه اجمالي شان خاکه راښکلي شوې ده ـ

مُلا ارزاني او تاريخ ګوئي:

مُلا ارزاني د پښتو ژبي او ادب د ګلستان هغۀ بلبل دے چي د خپل پير و مرشد حضرت بايزيدانصاري المعروف به پير روښان افکار او تعليمات ئې د شعر پۀ ژبه زمزمه کړي دي ـ دوي د پښتو ژبي او ادب وړومبے صاحبِ ديوان شاعر دے يعني د دوي نه وړاندې د پښتو شعر و شاعرئ نخښي نښاني شته دے ولي پۀ باقاعده توګه د اشعارو مجموعه او ديوان پۀ لاس نۀ راځي ـ دوي د خپل وخت ډېر لوے مفکر، عالم او د روښاني مکتبِ فکر مبلغ او شارح پاتي شوے دے او پۀ يو وخت ئې پۀ څلورو ژبو عربي، فارسي، هندي او پښتو مکمل عبور لرلو ـ دوي د خپل پير و مرشد د تصوف اتۀ مقامات شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت ته پۀ لطيف او نازکه پېرايه کښي شعري قالب اچولے دے ـ د روښاني مکتبِ فکر حريف اخون درويزه بابا هم د دوي د علميت او عقليت نه متاثره وۀ او د بايزيدانصاري خېرالبيان ځيني برخي د دوي تخليق او اختراع ګڼي ـ د دې نه علاوه دولت لواني، خوشحال خان خټک او رحمان بابا هم د دوي تعريف او ستائنه کړې ده او پۀ راتلونکي صوفيانه افکارو باندې د دوي د افکارو ژور اثرات مرتب او جوت دي ـ د دوي ټول ديوان پۀ يو او لنډ يعني اتۀ چپو کښي ليکلے شوے دے چي ارواښاد ډاکټر پروېز مهجور پرې د پښتو څانګي پېښور پوهنتون لۀ خوا د ډاکټر محمد اعظم اعظم پۀ نګرانئ کښي پۀ سېشن (۹۹ ـ ۱۹۹۸) د پي ايچ ډي ډګري اخستي ده ـ د دوي د ژوند او مړيني پۀ مد کښي ډاکټر عبدالله جان عابد د ډاکټر پروېز مهجور پۀ حواله ليکي:

(ترجمه: "ارزاني خوېشکي د زوکړې او مړيني کال پۀ صحيح توګه معلوم نۀ دے ـ البته د هغوي د کليات مدون او مقدمه نګار ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي د ځيني شواهدو پۀ بنا پۀ قياسي توګه د دوي زوکړې (1523ء/929ھ) او مړيني کال (1010ھ/1601ء) متعين کړے دے ـ ولي فاضل محقق د دوي د مړيني پۀ اړه مزيد پۀ کال (۲۰۰۲ء) کښي د بي بي سي اردو سره پۀ ارزاني خوېشکي د پروفېسر عبدالخالق رشيد د يو تحقيق نشر کړے دے ـ پۀ دې تحقيق کښي دا خبره واضحه شوې ده چي دوي پۀ کال (۱۰۲۸) هجرئ کښي وفات شوے دے چي دغه تاريخ د دوي د قبر پۀ يوه تخته پۀ هندوستان پټنه کښي ليکلے شوے دے ـ"[7]

مُلا ارزاني د پلار نوم برهان دے او پۀ قام قبيله خوېشکي زمند دے ـ ځيني محققينو ته د دوي د يو شعر نه ابهام شوے دے او د دوي نوم ئې محمد عزيز عزيز ګڼلے دے ـ ولي ډاکټر پروېز مهجور د دې تصحيح کړې ده او د دوي نوم مُلا ارزاني او پۀ قام قبيله ئې خوېشکي زمند او زېرزي ښودلے دے ـ

ارزاني پۀ پښتو ژبه
دۀ لۀ زړۀ وکيښ دا شعر
پۀ سربن کښي دي ځمند دے
او پۀ خېشکي کښي زېر
دي خېشکي کښي لۀ زېر
د والد نوم ئې برهان دے

د تاريخ ګوئی پۀ مد کښي دوي پۀ پينځۀ شپږ شعرونو کښي تاريخي مادې رابندې کړي دي چي نۀ يواځي پۀ دې لړ کښي ګټوره اضافه ده بلکي پۀ دې بنا اکثرو محققينو د دوي ژوند د کال (۱۰۱۰) هجرئ پورې يقيني ګرځولے وۀ ـ ولي وروستو د ارواښاد ډاکټر پروېز مهجور د بي بي سي سره د يوې مرکي پۀ تأثر کښي، دوي پۀ کال (۱۰۲۸) هجرئ کښي وفات شوے دے ـ

د تاريخ ګوئی پۀ مد کښي دوي پۀ تاريخ صوري کښي هم او پۀ تاريخ معنوي کښي هم طبع ازمائي کړې ده او د ځيني غزلونو او نظمونو د ليک کال ئې محفوظ کړے دے ـ پۀ دې لړ کښي کۀ يو خوا د دوي د شعر شاعرئ وخت او نېټه متعين کړې شوې ده نو بل خوا د دوي ژوند هم تر دغه اخري نېټي پورې يقيني شوے دے ـ پۀ دې مد کښي دوي وړومبے شعر پۀ تاريخ صوري کښي د الف نامي د "رې" پۀ پټئ کښي راوړے دے چي پکښي يولس شعرونه موجود دي ـ چي پېلامه ئې څۀ داسي کړې ده ـ

ر رويت د شاه برهنه دے
چار عنصر د شاه مقنه دے
تر دغه مقنه د لاندې
له هر چا پۀ يو تنه دے
چي فاني وجود ئې ورک کۀ
د فاني وبې انه دے

د دې شعرونو پۀ اخري يولسم نمبر شعر کښي دوي د دې الف نامي د ليک کال (۹۹۰) هجري پۀ تاريخ صوري کښي داسي محفوظ کړے دے ـ

فقير کوښلے دے دا شعر
پۀ "نهۀ صد نو" د سنه دے[8]

د دې نه دولس دیارلس کاله پس ئې دوې په کال (۱۰۰۳) هجري کښې یو غزل نما نظم د یوکم دېرش شعرونو وئیلے دے ـ چې مطلع ئې څۀ په دې ډول ده ـ

دا کلام دا فرزانه دے
دنیا سرائي د افسانه دے [9]

د دې غزل په اخري شعر یعني مقطع کښې ئې د دې غزل د لیک کال په تاریخ صوري کښې (۱۰۰۳) هجري هم خوندي کړے دے ـ لکه چې وائي:

ارزاني دا غزل کوښلے
په هزار وسه سنه دے [10]

هم دغسې ئې شپږ اووۀ کاله پس د دوه دېرش شعرونو یو غزل نما نظم په کال (۱۰۰۹) هجرۍ کښې وئیلے دے ـ چې شروعات ئې څۀ داسې شوي دي ـ

نۀ دي شبه نۀ نمونه
تۀ بې چونه بې چګونه
په اول د ادم اونه
تا له خاکه کړه زرغونه
په ایمان دي ښائسته کړه
د ادم خاکي تنه [11]

په دې غزل کښې د اخري دوۀ شعرونو نه وړاندې تقریباً په دېرشم شعر کښې ئې خپل نوم سره د دې غزل د لیک کال په تاریخ صوري کښې (۱۰۰۹) هجري څۀ داسې راوړے دے ـ

ارزاني دا کلام کښلے
په الف تسعه سنه [12]

د دې شعر د وړومبی مصرعې اخري لفظ "کښلے" په اړه معصوم هوتک په خپل کتاب "تعمّیي او تاریخي مادې په پښتو ادب" په مخ پینځۀ څلوېښت (۴۵)[13] زیاته کړې ده چې دغه مذکوره لفظ په کلیات کښې د "کښلے" په ځاے "کړے" لیکلے شوے دے ـ د دې نه پس د ئې د نه د لاعلمیت اظهار هم کړے دے چې هېڅ معلومه نۀ ده چې دا د چا له خوا داسې شوې ده ـ

هم په دغه کال (۱۰۰۹) هجرۍ کښې دوې یو بل غزل د اووۀ شعرونو د "غه" په ردیف کښې وئیلے دے چې وړاندې شعرونه ئې داسې راوړي دي ـ

مولیٰ پاک له هغه دغه
کل دغه د دغه هغه
دا هغه چشم بندي ده
دا هغه ئې د کل دغه
د عارف په کور کښې نشته
دویې ما مني له ړغه
(تۀ) په ذکر ئې کور خلاص کا
د خودي مني له توغه
شو ملا تر سپیني ږیرې
نۀ دے خلاص د مور له لوغه
نۀ نبي زده نۀ ولیو
د مولیٰ د پت یرغه

د دې غزل په اخري شعر یعني مقطع کښې د دې غزل د لیک کال په تاریخ معنوي لفظِ "دهغ" غیر معنوي لفظ نه دغه (۱۰۰۹) هجري کال څۀ داسې اخذ کړے شوے دے ـ

ارزاني دا کلام کړے
په تاریخ د دوست "دهغ" [14]

دغه مطلوبه لفظ ډاکټر پروېز مهجور په کلیاتِ ارزاني کښې د "دهغ" په ځاے "هغه"[15] لیکلے دے، چې ابجدي ارزښت ئې (۱۰۱۰) هجري راووځي ـ کۀ چرې وړاندې راغلے "دال" ورسره هم جمع او ملګرے کړے شي نو بیا ترې (۱۰۱۴) هجري جوړېږي ـ البته په سریزه کښې ئې د نمونې په توګه هم هغه شان لفظ "دهغ"[16] راوړے دے، چې ابجدي ارزښت ئې کال (۱۰۰۹) هجري راووځي ـ وړومبے خو هېڅ خارجي او داخلي شهادت په لاس نۀ راځي چې د هغې نه په یقیني توګه د دې غزل د لیک صحیح کال او نېټه معلومه کړے شي ـ البته دا خبره ښېخي د شک او تردّد نه لرې ده چې دغه متذکره غزل ټول په "غه" ردیف کښې وئیلے شوے دے ـ خو په اخري شعر یعني مقطع کښې د دغه متذکره ردیف نه

انحراف شوے دے او د لفظ "دغه" پۀ ځاے "دهغ" راوړے شوے دے ـ پۀ دې لړ کښې محض هم دغه يو دليل بطورِ ثبوت او اطمينانِ قلب دے چې د دې شعر يا مقطعِ رديف هم د نور غزل د رديف سره برابر کړے شي او د "ه" او "غ" پۀ وړاندې وروستو د لفظِ "دهغ" پۀ ځاے لفظِ "دغه" قبول کړے شي ـ يو خو به دغه متعلقه مقطعې رديف د نور غزل سره سم او برابر شي او دويم ئې پۀ ابجدي ارزښت کښې هيڅ کمے بېشے نۀ راځي، يعني د دواړو ابجدي ارزښت يو شان (۱۰۰۹) هجري جوړيږي ـ

پۀ کال (۱۰۱۰) هجرئ کښې دوي يو بل غزل د درې ووېشت شعرونو وئيلے دے ـ چې شروعات ئې څۀ داسې شوي دي ـ

(دا) الف پۀ شمار کښې يو دے
پۀ کل شمار کښې د دۀ رو دے
د کل شمار اغاز له يوه
دغه يو د هر چا نو دے [17]

دغه شان ئې د دې غزل پۀ نولسم نمبر شعر کښې هم دوي خپل نوم "ارزاني" پکارولے دے لکه چې وائي:

ارزاني ځرګند نۀ وائي
لۀ شريعته د دۀ بهو دے [18]

د دې نه پس ئې وړاندې پۀ دووېشتم او درويشتم نمبر شعرونو کښې بالترتيب پۀ وړومبي شعر کښې پۀ تاريخ معنوي صنعتِ تاريخ لفظي غير معنوي لفظ "دغو" نه پۀ ابجدي ارزښت سره مطلوبه کال (۱۰۱۰) هجري اخذ کړے دے ـ لکه چې وائي:

دا غزل پۀ تاريخ کښلے
پۀ حساب د دوست "دغو" دے

وروستي ئې پۀ درويشتم نمبر اخري شعر کښې پۀ تاريخ معنوي صنعت تاريخِ حرفي کښې بالترتيب د (غ، د، و) نه پۀ ابجدي ارزښت سره هم دغه (۱۰۱۰) هجري کال راويستے دے ـ چې د تاريخ معنوي صنعت تاريخ لفظي پۀ زومره کښې راځي ـ

"غين" زر ئې "دال" څلور دے
پۀ شپږ ياد حساب د "واو" دے [19]

باالفاظِ ديگر دوي وړومبي شعر کښې د "دغو" بې معني لفظ نه دغه کال اخذ کړے دے او پۀ دويم شعر کښې ئې د دغه لفظ جدا جدا پۀ حرفي شکل کښې راوړے دے او دغه مطلوبه (۱۰۱۰) هجري کال ئې ترې مقصود کړے دے ـ البته پۀ لفظ کښې "دال" وړومبے دے او پۀ حرفونو کښې "غين" وړومبے راوړے شوے دے ـ چې د تاريخ معنوي صنعت تاريخ حرفي ښه نمونه ده ـ

هم پۀ دې کال (۱۰۱۰) هجرئ کښې دوي يو بل غزل نظم وئيلے دے ـ د دې نظم پۀ اخري شعرونو کښې ئې د دې نظم ليک کال (۱۰۱۰) هجري ته داسې اشاره کړې ده ـ

ارزاني وينا کړه عرض
اشنائي د حق ده فرض
د دې عرض حساب و غواړه
پۀ حساب د له حرفه "يرض" [20]

پۀ دغه مذکوره شعرونو کښې د اخري مصرعې د اخري لفظ "يرض" پۀ ابجدي ارزښت سره کال (۱۰۱۰) هجري راووځي چې د تاريخ معنوي صنعت تاريخ لفظي پۀ زړۀ پورې نمونه ده ـ پۀ عمومي توګه ملا ارزاني فقط شپږ اووۀ شعرونه وئيلي دي چې د تاريخ ګوئۍ د تاريخ معنوي او تاريخ صوري دواړو پۀ زومره کښې راځي ـ اګر چې د دوي دغه تاريخونه پۀ فني لحاظ سره د دې فن پۀ تاريخ معنوي قسم غير معنوي لفظونو کښې رانغښتي دي ولې بيا هم دې لړ کښې د دوي کار و زيار او کوشش د ستائينې او يادونې جوګه دي ـ ولې چې د دوي نه وړاندې پۀ پښتو کښې د فن نمونې پۀ لاس نۀ راځي او د دوي ئې وړومبۍ چينه او منبع ده ـ بايد پۀ دې لړ کښې به ځينې تېروتنې ضرور شوې وي، خو هغه د نشت برابر هم نۀ دي ـ

## حوالي

[1] ـــ پوری، فرمان فتح، ڈاکٹر، تاریخ گوئی اور اس کی روایت، سنگ میل پبلی کیشنز اردو بازار لاهور، چاپ کال نۀ لري، مخ ۵
[2] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۱۶ ـــ ۱۱
[3] ـــ مجروح، مشتاق، د ابجدو اعداد او يو تجويز، مقاله، ناچاپ، مملوکه، ځلاند مومند، ساهو ليکونکيو مرکه پېښور
[4] ـ ولا، عزیز جنگ، نواب، شمس العلماء، غرائب الجمل، قومی کونسل برائے فروع اردو زبان حکومتِ ہند، دسمبر ۱۹۹۸ء، مخ ۱۱۲
[5] ـ کسرئ منهاس، فنِ تاریخ گوئی، محمد زکریا، خواجه، دیباچه "فن تاریخ گوئی" نقوش پریس اردو بازار لاهور، د چاپ کال نۀ لري، مخ ۲۵
[6] ـــ حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، پروفېسر، خوشحال او تاريخ ګوئي، زرپانه پرنټرز پبلشرز پېښور، چاپ اول ۱۹۹۹ء، مخ ۳۸، ۳۹
[7] ـــ عابد، عبدالله جان، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ، یونیورسٹی پبلشرز افغان مارکیٹ پشاور، طبع دول ۲۰۱۱، ص: ۵۳
[8] ـــ خوېشکے، پروېز مهجور، ډاکټر، سمؤنه او څېړنه، د ارزاني خوېشکي کليات، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، جون ۲۰۰۵ء، مخ ۹۷۸
[9] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۶۷
[10] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۶۹
[11] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۳۷
[12] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۳۹
[13] ـــ هوتک، محمد معصوم، تعميي او تاريخي مادي پۀ پښتو ادب کښې، علامه رشاد خپرندويه ټولنه کندهار افغانستان، ۲۰۱۲ء، مخ ۴۵
[14] ـــ هم دغه ماخذ، هم دغه مخ
[15] ـــ خوېشکے، پروېز مهجور، ډاکټر، سمؤنه او څېړنه، د ارزاني خوېشکي کليات، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، جون ۲۰۰۵ء، مخ ۲۸۵
[16] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۱۵۵
[17] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۹۶
[18] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۹۷
[19] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۳۹۸
[20] ـــ هم دغه ماخذ، مخ ۶۷۴

## References:

[20] - Pori, Farman Fath, Dr, tariKh goi aur us ki riwayat, sngi meel publication urdu bazaar lahore, P 5
[20] - lbid, P 11-16
[20] - Majrooh, Mushtaq, d abjado adad aw yaw tajwaiz, maqala, nachap, mumloka, Zalan Mumanad, saho likonko maraca pekhawr,
[20] - wala, Aziz Jang, nawab, Shamsul ulama, qaumi Council baraye firog urdu zuban hukomato hind, December 1998AD, P 112
[20] - kusra minhas, fano tarikh goi, Muhammad Zakria, khwaja, debacha, ‘fani tarikh goi’, naqosh press urdi bazaar Lahore, P 25
[20] - hasrat, Muhammad Zubair, Dr, prof, Khushal khan Khattak aw tarikh goi, zarpana publisher pekhawar, 1991AD, P 38, 39
[20] - Abid, Abdul ullah jan, Pashto zuban w adab ki mukhtsar tarikh, university publisher afghan market Peshawar, 2nd 2011AD, P 53

[20] - Khaishky, Parvaiz Mahjoor, Dr, samawona aw sirrana, dh Arzani kulyat, jadon printing press pekhawar, june 2005AD, P 978
[20] - lbid, P 367
[20] - lbid, P 369
[20] - lbid, P 337
[20] - lbid, P 339
[20] - hotak, Muhammad masoom, tammiye aw tarikhi madi pa pukhto adab ki, alama rashad khaprandoya tolana qndahar Afghanistan, 2012AD, P 45
[20] - lbid, lbid
[20] - Khaishky, Parvaiz Mahjoor, Dr, samawona aw sirrana, dh Arzani kulyat, jadon printing press pekhawar, june 2005AD, P 285
[20] - lbid, P 155
[20] - lbid, P 396
[20] - lbid, P 397
[20] - lbid, P 398
[20] - lbid, P 674

Pukhtunkhwa Journal